امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه مدیریت حوادث

۸ الی ۱۳ حمل ۱۴۰۵

## شماره یکصدو چهل و هشتم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د ترکیې جمهوریت له سفیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ترکیې جمهوریت له سفیر سادین آیلدیز او د هغه له مل پلاوي سره وکتل او د دوه اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا یې خبرې وکړې.
په دې ناسته کې ترابي صاحب افغانستان او ترکیه دوه اسلامي او ورور هېوادونه وبلل او د افغانستان له خلکو سره یې د ترکیې له مرستو او همکاریو څخه د ستاینې ترڅنګ وویل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره غیر سیاسي ده او خپل فعالیتونه د پېښو له زیانمنو سره د بشري مرستو...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د اسلامي هوساینې نړیوالې (IRW) مؤسسې ترمنځ د (۷۸۹,۵۵۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس الحاج ملا نور الدین ترابي د اسلامي هوساینې نړیوالې (IRW) مؤسسې له رئیس محترم محمد ذوالقرنین عباس او د هغه له مل پلاوي سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس ننګرهار ولایت ته سفر وکړ او د ختیځ زون د ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو له کارکوونکو او رضاکارانو سره یې بېړنۍ غونډه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د ریاست‌الوزرا عالي مقام د لارښوونې پر بنسټ، د یو تخنیکي او مسلکي پلاوي په مشرۍ د وروستیو جګړو له امله بې‌ځایه شویو ته د رسېدنې ...

ادامه در صفحه ۳

### د کابل ښار په یوولسمه ناحیه کې له ناچاوده توکو څخه د پاکو شویو سیمو څارنه وشوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس، محترم قاري نورالدین رستم‌خېل، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د خدماتو (UNMAS)د رئیس نیک پانډ په ملتیا، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ترکیې جمهوریت له سفیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ترکیې جمهوریت له سفیر سادین آیلدیز او د هغه له مل پلاوي سره وکتل او د دوه اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا یې خبرې وکړې.

په دې ناسته کې ترابي صاحب افغانستان او ترکیه دوه اسلامي او ورور هېوادونه وبلل او د افغانستان له خلکو سره یې د ترکیې له مرستو او همکاریو څخه د ستاینې ترڅنګ وویل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره غیر سیاسي ده او خپل فعالیتونه د پېښو له زیانمنو سره د بشري مرستو په چوکاټ کې پر مخ وړي. هغه زیاته کړه چې د ترکیې خیریه بنسټونو تر دې وړاندې هم له افغانانو سره مرستې کړې دي او د هېواد د طبیعي پېښو له ګواښونو سره د مخ کېدو له امله اړتیا ده چې دغه همکارۍ لا پراخې شي.

د ادارې لوی رئیس، د ترکیې د پېښو له ادارې سره پر مستقیمو اړیکو ټینګار وکړ او ویې ویل چې د دواړو بنسټونو ترمنځ د تجربو شریکول د پېښو په مدیریت کې اغېزناک تمامېږي. هغه د دې ادارې د لټون او ژغورنې ټیم د جوړېدو یادونه هم وکړه او د ظرفیت پر لوړولو یې ټینګار وکړ.

ترابي صاحب د وروستیو جګړو له امله د بې‌ځایه شویو وضعیت ته په اشارې سره وویل چې دا اداره په ختیځ زون کې هغوی ته د رسېدنې مسؤلیت لري او د هغوی د سروې بهیر شوی دی او له نورو مرستندویو ادارو یې هم په دې لویه پېښه کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

له بلې خوا، د ترکیې سفیر سادین آیلدیز د دواړو هېوادونو پر ورورولۍ ټینګار وکړ او ویې ویل چې د ترکیې پالیسي دا ده چې د افغانستان له خلکو سره ولاړ وي او د هغوی د هوساینې لپاره مرسته وکړي. هغه زیاته کړه چې ترکیه د سوداګریزو اړیکو تر څنګ، په تخنیکي او بشري برخو کې هم له افغانستان سره همکاري کوي او ځانګړی تمرکز یې پر تخنیکي همکاریو دی، ځکه دا ډول مرستې اوږدمهاله اغېز لري.

نوموړي همداراز له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ترکیې د پېښو ادارې ترمنځ د همغږۍ په برخه کې د همکارۍ چمتووالی څرګند کړ او ویې ویل چې د پېښو مدیریت او د ظرفیت لوړولو په برخو کې به ګډې هڅې وکړي.

په پای کې، دواړو لورو په اړوندو برخو کې په همکاریو ټینګار وکړ او د ترابي صاحب له لورې ښاغلي سادین آیلدیز ته د یادګار په توګه ډالۍ هم ورکړل شوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامي هوساينې نړيوالې (IRW) مؤسسې ترمنځ د (۷۸۹,۵۵۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس الحاج ملا نور الدين ترابي د اسلامي هوساينې نړيوالې (IRW) مؤسسې له رئيس محترم محمد ذوالقرنين عباس او د هغه له مل پلاوي سره وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم نامه يې ورسره لاسليک کړه.

په پيل کې ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وويل او زياته يې کړه، چې د کونړ ولايت د ځينو ولسواليو خلک زلزلې سختې ځپلي دي او د سړښا په برخه کې مرستو ته ضرورت لري، له همدې امله هيله لرو چې له اړمنو او مستحقو کورنيو سره پر وخت او په شفاف ډول اساسي مرستې ترسره سي.

وروسته د اسلامي هوساينې نړيوالې مؤسسې رئيس محمد ذوالقرنين عباس د خپلې تطبيقېدونکې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او د دې ادارې له رهبرۍ څخه يې مننه وکړه او همدارنګه يې وويل چې موږ به هغه کورنۍ د مرستو لپاره انتخاب کړو چې زلزلې ځپلي وي.

په پای کې د دواړو لوريو ترمنځ ټولټال د اوه سوه نهه اتيا زره پنځه سوه پنځه پنځوس (۷۸۹,۵۵۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک سوه، چې له مخې به يې د کونړ ولايت د چپه درې ولسوالۍ په بسطله او وتله کليو کې ۳۰۹ مستحقو او زيانمنو کورنيو ته د سړښا د برابرولو او سړښا ترميمولو لپاره نغدي مرستي وويشل سي.

۱- ۱۷۵ کورنيو ته چې په کلي توګه يې کورنه ويجاړ سوي وي هري کورنۍ ته ۳,۲۷۲ امريکايي ډالر په درې قسطونو کې ورکول کيږي.

۲- ۱۲۹ کورنيو ته چې کورنه يې په نيمه توګه ويجاړ سوي وي هري کورنۍ ته د سړښا د ترميم لپاره ۵۵۰ امريکايي ډالره په دوو قسطونو کې ورکول کيږي.

۳- ۵ کورنيو ته چې په لږ اندازه يې کورونه ويجاړ سوي وي هري کورنۍ ته د سړښا د ترميم لپاره ۳۳۰ امريکايي ډالره په دوو قسطونو کې ورکول کيږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس ننګرهار ولايت ته سفر وکړ او د ختيځ زون د ولايتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياستونو له کارکوونکو او رضاکارانو سره يې بېړنۍ غونډه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د رياست‌الوزرا عالي مقام د لارښوونې پر بنسټ، د يو تخنيکي او مسلکي پلاوي په مشرۍ د وروستيو جګړو له امله بې‌ځايه شويو ته د رسېدنې په موخه ننګرهار ولايت ته سفر وکړ.

په دې غونډه کې چې د ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولايتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياستونو رئيسانو او کارکوونکو او د ختيځ زون رضاکاران شتون درلود، ترابي صاحب وويل چې د رياست‌الوزرا عالي مقام د لارښوونې له مخې د ختيځ زون د ولايتونو د بې‌ځايه شويو بېړنيو اړتياوو ته د رسېدنې مسؤليت دې ادارې ته او د سويلي ولايتونو مسؤليت سرې مياشتې ته سپارل شوی دی. له همدې امله موږ خپل کار په ټولو امکاناتو سره پيل کړی او کلي په کلي به کره سروې ترسره کوو، څو که له دې ولايتونو کوم بې‌ځايه شوی حتی په کابل يا په بل ولايت کې هم موجود وي، هغوی ته به لازمه رسېدنه وکړو.

محترم ترابي صاحب وويل، چې موږ په خپلو ګدامونو کې لازم امکانات لرو او د اړتيا په صورت کې له نورو ولايتونو څخه هم توکي انتقالوو او د رياست الوزرا عالي مقام هم د هر ډول ملاتړ ژمنه کړې ده.

ورپسې د ادارې لوی رئيس د ۲۲ ماده‌ييزې اجنډا په اړه بحث وکړ او د هرې مادې په اړه يې جلا جلا نظرونه او وړانديزونه ترلاسه کړل او په اړه يې لازمې پرېکړې ونيول شوې. او ۱۶ مختلفې کميټې وټاکل سولې او کميټو په خپل کار شروع وکړه.

# د کابل ښار په یوولسمه ناحیه کې له ناچاوده توکو څخه د پاکو شویو سیمو څارنه وشوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس، محترم قاري نورالدین رستم‌خېل، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د خدماتو (UNMAS)د رئیس نیک‌پاند په ملتیا، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس د لارښوونې پر بنسټ، د کابل ښار د یوولسمې ناحیې اړوند د لواح بابه جان په سیمه کې له ناچاوده توکو څخه د پاکو شویو سیمو څارنه او ارزونه وکړه.

د دې لیدنې پر مهال، قاري نورالدین رستم‌خېل وویل چې دغه سیمې د شوروي د اشغال پر مهال د پوځي مرکزونو په توګه کارېدلې دي. نوموړي زیاته کړه چې د تېر کال د لړم په میاشت کې په همدې سیمه کې یوه چاودنه شوې وه چې له امله یې ۷ تنه هېوادوال ټپیان شوي وو؛ خو اوس دغه سیمې له ماینونو او ناچاوده توکو څخه پاکې شوې دي او د پاکولو بهیر لا هم دوام لري.


محترم رستم‌خېل همدارنګه په سیمه کې د هلوټرسټ او DRC مؤسسو د ماین پاکۍ له ټیمونو سره لیدنه وکړه او د کډوالو د بېرته راستنېدو د زیاتوالي په پام کې نیولو سره یې د لواح بابه جان په سیمه کې د کمپونو د پاکولو د بهیر پر چټکتیا ټینګار وکړ. نوموړي د عامه پوهاوي ټیمونو ته هم لارښوونه وکړه چې د سیمې اوسېدونکو او راستنېدونکو لپاره د پوهاوي او روزنیزو پروګرامونو لړۍ نوره هم پراخه کړي.

په همدې حال کې، په افغانستان کې د UNMAS رئیس نیک‌پاند وویل چې افغانستان د نړۍ له هغو درېیو هېوادونو څخه دی چې د ماینونو او ناچاوده توکو له زیات خطر سره مخ دي او د خلکو ژوند په جدي ډول له خطر سره مخ دی. هغه د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې له لوري د دې ډول سیمو د پاکولو په برخه کې د ژمنتیا ډاډ ورکړ او د همکاریو پر دوام یې ټینګار وکړ.

له بلې خوا، د هلوټرسټ مؤسسې استازو وویل چې په دې سیمه کې له ۷۰۰۰ متر مربع څخه ډېرې ککړې سیمې پاکې شوې دي چې په پایله کې یې ۳۲۳ بېلابېل ډول ناچاوده توکي کشف او په خوندي ډول له منځه وړل شوي دي.

همدارنګه، د DRC مؤسسې استازي وویل چې د لواح بابه جان د کډوالو په کمپ کې د ټولو راستنېدونکو لپاره د عامه پوهاوي پروګرامونه په منظم ډول ترسره کېږي، تر څو هغوی د ماینونو او ناچاوده توکو له خطرونو څخه خبر شي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه





د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ننګرهار ولایت له والي سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، چې د وروستیو جګړو له امله د ختیځو ولایتونو بې‌ځایه شویو ته د رسېدنې د مدیریت په موخه د یوه مسلکي ټیم په مشرۍ ننګرهار ولایت ته سفر کړی، د دې ولایت له والي، محترم الحاج ملا ګل محمد (حاجي کاکا)، د سرې میاشتې رئیس، محترم قاري محمد فضل الرحمن، د اقتصاد رئیس، محترم مولوي جان محمد او د یاد ولایت د کډوالو چارو له رئیس، محترم مولوي عزیز الرحمن سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کې وکتل.

په پیل کې، محترم ترابي صاحب د خپل سفر موخه بیان کړه او ویې ویل چې د ریاست‌الوزرا عالي مقام د حکم له مخې، په ختیځو ولایتونو کې بې‌ځایه شویو ته د رسېدنې او مرستو وړاندې کولو مسؤلیت دې ادارې ته سپارل شوی دی، او ټولې امارتي ادارې او هغه مؤسسې چې د مرستو د وړاندې کولو لپاره چمتووالی ولري، کولای شي له موږ سره همکاري وکړي.

وروسته، د ګډوالو ارقامو په اړه چې د بېلابېلو ادارو له خوا سروې شوې دي، او همدارنګه د سرې میاشتې، د کډوالو چارو ریاست او د اقتصاد ریاست د امکاناتو په اړه هر اړخیز بحثونه وشول.

همداراز، د ننګرهار والي د بې‌ځایه شویو د وضعیت په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې ټولو مسؤلینو او ولسوالیو ته به لازمې لارښوونې وکړي تر څو له ټاکل شویو کمېټو سره بشپړه همکاري وکړي.

په پای کې پرېکړه وشوه چې په کمېټو کې دې د سرې میاشتې استازی، د پېښو رضاکار، د کډوالو چارو استازی، د ولسوال استازی او د کلي ملک شامل وي، او د دې ادارې د یو کارکوونکي تر مشرۍ لاندې دې ولسوالیو ته جلا جلا د سروې لپاره واستول شي، تر څو د مستحقینو له کره تشخیص وروسته د مرستو د وړاندې کولو د څرنګوالي په اړه لازمې پرېکړې وشي.

## په ختیځ زون کې د وروستیو جګړو له امله د بې‌ځایه شویو د سروې او ارزونې ټیمونه د سوق (ترابی صاحب) او ادارې له مرکز څخه ولسوالیو ته واستول شول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د یو مسلکي پلاوي په مشرۍ چې ننګرهار ولایت ته یې سفر کړی دی، د کاري کمېټو له مسؤلینو سره یې د وروستیو جګړو له امله د بې‌ځایه شویو د کره سروې په موخه ناسته ترسره کړه.

په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب د هغو کورنیو د هر اړخیزې او کره سروې پر اړتیا ټینګار وکړ چې د جګړو له امله له بېلابېلو ولسوالیو بې‌ځایه شوې دي، او اړونده ټیمونو ته یې لازمې لارښوونې وکړې. نوموړي وویل چې د دې سروې موخه د بې‌ځایه شویو د اړتیاوو کره تشخیص او د اغېزمنو مرستو وړاندې کولو لپاره زمینه برابرول دي.

د ادارې لوی رئیس د کمېټو مسؤلینو ته وویل چې د ادارې ټول مادي امکانات او معنوي ملاتړ د هغوی په واک کې دي، او زیاته یې کړه چې د سروې له بشپړېدو وروسته به نغدي مرستې، خوراکي او غیرخوراکي توکي د افغانستان اسلامي امارت له لورې، په ځانګړې توګه د همدې ادارې له خوا، بې‌ځایه شویو کورنیو ته ووېشل شي.


د ناستې په پای کې، ګډ ټیمونه چې د کډوالو چارو استازي، د اړوندو ولسوالیو استازي، د پېښو رضاکاران او د قریو ملکان پکې شامل دي، د دې ادارې د کارکوونکو تر سرپرستۍ لاندې جګړه‌ځپلو ولسوالیو ته واستول شول. ټاکل شوې ده چې د سروې له بشپړېدو وروسته به د بې‌ځایه شویو وضعیت ته د رسېدنې لپاره به بېړنې لازم اقدامات ترسره شي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ختیځ زون د UN-OCHA له مسؤل سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی ئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د خپل سفر په لړ کې د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په مقر کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ ادارې (UN-OCHA) د ختیځ زون له مسؤل، محترم ډاکټر اسماعیل امن سره وکتل.
په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب د بې ځایه شویو کسانو لپاره د سروې او د بشري مرستو د وېش د وروستیو راپورونو له اورېدو وروسته، د دې پروسې پر دقت او شفافیت ټینګار وکړ. هغه څرګنده کړه چې یوازې د بشپړ شفافیت او دقت په مراعتولو سره مرسته کولای شي ټولو حقیقي بې ځایه شویو ته ورسېږي.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس زیاته کړه، چې د سروې ټیمونه د دې ادارې د کارکوونکو تر مشرۍ لاندې، چې د ولایت مقام، د کډوالو ریاست، سره میاشت، د ولسوالیو استازي، د کلیو مشران او رضاکار ټیمونه پکې شامل دي، خپل کار پیل کړی دی. همدارنګه یې د UN-OCHA له دفتر څخه یې وغوښتل چې هغه د سروې او وېش لستونه چې د مؤسسو له لارې د دې دفتر په همغږۍ ترسره شوي، له دې ریاست سره شریک کړي، څو هېڅ بې ځایه شوې کورنۍ له مرستو بې برخې پاتې نه شي.
ورپسې، محترم ډاکټر اسماعیل امن د ختیځ زون د دفتر د فعالیتونو په اړه مفصل راپور وړاندې کړ او ویې ویل، چې تر اوسه پورې په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې شاوخوا ۶۰۰۰ کورنۍ سروې شوې دي. له دې جملې څخه ۳۵۵۰ کورنیو ته نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې وېشل شوې دي، او د سروې بهیر هم مهاله له اړمنو سره د مرستې په موخه دوام لري. هغه زیاته کړه چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره نېږدې همکارۍ د همغږۍ او د مرستو د اغېزمنتیا په ښه والي کې مهم رول لوبولی دی.
د دې لیدنې په پای کې، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په ختیځ زون کې د ملګرو ملتونو د دفترونو او نورو بشري مؤسسو ترمنځ د لا زیاتې همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ او د دې غوښتنه یې وکړه چې همغږي نوره هم پیاوړې شي، څو مرستې ټولو بې ځایه شویو ته ورسېږي.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۳۳۶ خانواده آسیب‌دیده از زلزله کمک‌های نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه افغان‌ها برای فردا (A۴T)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی و تخنیکی این مؤسسه، پس از انجام سروی در ولسوالی دره‌نور آن ولایت، به ۳۳۶ خانواده زلزله‌زده کمک‌های نقدی توزیع نمود.
در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین مبلغ ۹,۶۴۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع برای این تعداد خانواده‌ها سه میلیون و دوصد و سی‌ونه هزار و چهل (۳,۲۳۹,۰۴۰) افغانی اختصاص داده شده بود.

# له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې لوی رئیس له لوري ۱۵۲ بې‌ځایه شویو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکي مرستې وویشل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، چې د ختیځو ولایتونو د بې‌ځایه شویو د وضعیت د مدیریت په موخه یې د یو مسلکي پلاوي په مشرۍ ننګرهار ولایت ته سفر کړی، هغو ۱۵۲ کورنیو ته چې د وروستیو جګړو له امله د کونړ ولایت او د دغه ولایت له جګړه ځپلو ولسوالیو څخه بې‌ځایه شوې دي، له سروې وروسته د همکارو بنسټونو له لوري برابرې شوې نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
د مرستو د وېش پر مهال، محترم ترابي صاحب وویل چې دا اداره د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره ښې کاري اړیکې لري او دغه سازمان په بېلابېلو برخو کې ورسره همکاري کړې ده. نوموړي زیاته کړه چې نن هم د IOM دفتر او د PUAMI مؤسسې له لارې ۱۵۲ بې‌ځایه شویو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکي مرستې وېشل کېږي.
ورپسې، د IOM دفتر د ختیځ زون مسؤل، سرفراز څرگند، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې له همکاریو مننه وکړه او د مرستو د وېش پروګرام په اړه یې معلومات وړاندې کړل، او همدارنګه یې په ورته حالاتو کې د لا زیاتو همکاریو ژمنه وکړه.
د یادونې وړ ده چې په دی توزیع کی د IOM له لارې ۲۲ کورنیو هرې یوې ته ۸۵۰۰ افغانۍ او ۱۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۳ تختې کمپلې، د پخلنځي یوه بسته (چې ۲۹ قلمه توکي پکې شامل دي)، یو عدد سولري څراغ ، یوه تخته فرش او یو عدد جارو ورکړل شول. همدارنګه، د PUAMI مؤسسې له لوري ۱۵۲ کورنیو هرې یوې ته یوه روغتیایي بسته وویشل شوه.
په پای کې، د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې، د IOM دفتر او د PUAMI مؤسسې څخه مننه وکړه او د ورته مرستو دوام غوښتنه یې وکړه.

# ده‌ها واسطه نقلیه و سرنیشنان گیرمانده در برف‌ها در ولسوالی جلریز ولایت میدان وردگ از خطر مصوون شدند



در پی ریزش برف سنگین در ولسوالی جلریز ولایت میدان وردگ، مسیر کوتل اونی مسدود و شماری از وسایط نقلیه و سرنیشنان آن در دو طرف مسیر مذکور گیرمانده بودند.
در نتیجه تلاش‌های ریاست آمادگی مبارزه باحوادث و ولسوالی محترم جلریز این مسیر دوباره بازگشای شده و وسایط به حرکت خود ادامه داده، به ساحات امن منتقل گردیدند.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د انګلستان د جنګ ځپلو ماشومانو لپاره (War Child UK) مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۴۴۹,۵۷۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د انګلستان د جنګ ځپلو ماشومانو لپاره مؤسسې له رییس محترم بی جی کمار او مل پلاوي سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل او په ختیځو ولایتونو کې یې جنګ ځپلو کورنیو ته په اشارې سره وویل، چې دا مهال دې د زلزلې له امله د زیانمنو شویو کورنیو پر ځای له وروستۍ جګړې ځپلو کورنیو سره مرستې ترسره شي او له یادې مؤسسې څخه یې په دې برخه کې د پوره همغږۍ غوښتنه وکړه ترڅو مرستې پر وخت مستحقو کورنیو ته ورکړل شي، همدارنګه ترابي صاحب د پروژې د پلي کېدو پر سرعت او شفافیت ټینګار وکړ.

په همدې حال کې د انګلستان د جنګ ځپلو ماشومانو لپاره مؤسسې رییس له ترابي صاحب څخه د وخت ورکولو له امله مننه وکړه او د خپلې پروژې په اړه یې معلومات وړاندې کړل، همداراز نوموړي زیاته کړه، چې په راتلونکې کې به جنګ ځپلو او د بارانونو له امله زیانمنو شویو کورنیو ته هم رسېدنه کوي.

د یادونې وړ ده، چې د ناستې په پای کې د دواړو لورو ترمنځ ټولټال د څلور سوه او نه څلویښت زره او پنځه سوه او دوه اویا (۴۴۹,۵۷۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د بلخ ولایت په شولګره او چمتال ولسوالیو او د جوزجان ولایت په شبرغان او خواجه دوکوه ولسوالیو کې د وچکالۍ له امله د زیانمنو شویو کورنیو ۲۸۸۰ ماشومانو ته د مثبتې روزنې سیمینارونه ترسره او د یادو ماشومانو د شېږ میاشتنۍ روزنې لپاره په اړینو وسایلو سمبال ۸ روزنیز مرکزونه جوړ، ۴۰۰ ماشومانو هر یوه ته د ۷۵ ډالرو په ارزښت نغدي پیسو وېشل او ۴۰۰ نورو ماشومانو هر یوه ته د ۲۰۰ ډالرو په ارزښت نغدي پیسو وېش، د ماشومانو د ساتنې لپاره په ۱۲۰ کسانو مشتملې ۸ سیمه ییزې کمېټې جوړول، د کمېټې غړو ته درې ورځنۍ روزنیز پروګرام تر سره، د کمېټې ۲۴ غړو هر یو ته د شپږو میاشتو لپاره هره میاشت ۳۵۰ افغانۍ کریډېټ کارت، د ټولنې ۲۴۰۰ غړو ته د ټولنیزو بحثونو اړوند غونډې ترسره کول او د یادو مرکزونو ۳۲ تنه ښوونکو هر یو ته د ۶ میاشتو لپاره هره میاشت د لارې د کرایې او نورو امتیازاتو په موخه ۲۰۰ ډالر وېشل کېږي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا برای ۳۶۸ خانواده بی‌جاشده کمک‌های ناشی از جنگ مساعدت نقدی و غیرخوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا با حمایت موسسات AWCPO و UNICEF، پس از انجام بررسی برای ۳۶۸ خانواده ناشی از جنگ بی‌جا شده بودند مساعدت نقدی و غیر خوراکی توزیع نمود. در این روند، یاحضور مسئولان، موسسه AWCPO که حمایت مالی آن توسط دفتر WFP تأمین می‌شود، به هر خانواده مبلغ ۵,۸۰۰ افغانی توزیع کرد که در مجموع مبلغ دو میلیون و یک‌صد و سی و چهار هزار و چهارصد (۲,۱۳۴,۴۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود. از طرف دفتر UNICEF برای هر خانواده یک بسته صحی توزیع شد.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د یونیسف دفتر د پېښو د برخې له سترې کارپوه سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د یونیسف دفتر د پېښو د برخې له سترې کارپوه آغلې ماریا سره وکتل او زیانمنو او بېځایه شویو ته د رسېدنې په اړه یې خبرې وکړې.

په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب د هېواد له خلکو سره د یونیسف دفتر له همکاریو څخه مننه وکړه او د وروستیو جګړو له امله د داخلي بېځایه شویو کسانو پر وضعیت یې خبرې وکړې. هغه وویل چې د ریاست الوزراء د عالي مقام د لارښوونې پر بنسټ موږ ختیځو ولایتونو ته سفر کړی، د بېځایه شویو کسانو د ارزونې او سروې بهیر مو پیل کړی دی او ټاکل شوې چې ډېر ژر ورته لازمې مرستې برابرې شي. نوموړي زیاته کړه چې زموږ هیله دا ده چې که امکان وي، تاسو هم خپلې مرستې زیاتې کړئ تر څو بېځایه شوي کسان له لا غوره مرستو څخه برخمن شي.

هغه همدارنګه د پېښو له زیانمنو کسانو، په ځانګړې ډول د سېلابونو له امله له اغېزمنو سره د مرستې پر اړتیا ټینګار وکړ او د وقایوي پروژو پلي کول یې مهم وبلل. نوموړي هغوی دې برخه کې وهڅول او ویې ویل چې مرستې باید په چټک ډول او د خلکو د اړتیاوو سره سم برابرې شي.

په همدې حال کې آغلې ماریا د یونیسف د کاري بهیر په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې موږ د ځارنې، د خطرونو د پېژندنې او د پېښو د مدیریت په برخه کې د ځواب وینې په چارو کې هم کار کوو، او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له ولایتي ریاستونو سره همکارۍ مثبتې یادوو.

هغې زیاته کړه چې د ختیځ زون په کچه د موجوده امکاناتو په نظر کې نیولو سره، موږ د بېځایه شویو کسانو سره د مرستې لپاره چمتو یو او همدارنګه د افغانستان دننه له شته موادو څخه زیات امکانات برابروو.

په پای کې دواړو لورو د شته امکاناتو او د مرستو د وړاندې کولو پر څرنګوالي هر اړخیزې خبرې وکړې او د همکاریو پر لا پیاوړتیا یې ټینګار وکړ.

## سه خانواده در ولسوالی نرخ ولایت میدان وردک از خطرات سیلاب مصوون گردیدند

در پی بارش شدید باران و سرازیر شدن سیلاب‌ها در مربوطات ساحه شمشیر، ولسوالی نرخ ولایت میدان وردک، سه خانواده در معرض تهدید قرار گرفته بودند.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت، اقدامات لازم به هدف جلوگیری از سرازیر شدن سیلاب به منازل مسکونی انجام داد و اکنون این خانواده‌ها از خطر سیلاب در امان قرار دارند.

قابل ذکر است که ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک در ولسوالی نرخ، یک عراده ماشینری اسکواتور را به کرایه گرفته است تا علاوه بر بازگشایی راه‌های مسدود، از تهدید سیلاب بر منازل مسکونی جلوگیری نماید.




مولوی احمد شاه ذهین، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک، ضمن تأکید بر تداوم این‌گونه اقدامات، اظهار داشت که این ریاست با همکاری ولسوالان در تمامی ولسوالی‌ها، به پاک کاری مسیرهای مسدودشده و اتخاذ تدابیر لازم به منظور جلوگیری از خطرات ناشی از سیلاب‌ها ادامه خواهد داد.

## د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یوې سېلابي لارې د کیندلو او پاکولو چارې پیل کړې




د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د بودیجې په واسطه د یاد ولایت د بنګي ولسوالۍ په غوریچې او جمانقیه کلیو کې د سېلابي لارې د کیندلو او پاکولو چارې د احتمالي سېلابونو د خطرو د مخنیوي په موخه پیل کړې.

یاده پروژه د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د محترم رئیس، د یادې ولسوالۍ د محترم ولسوال او سیمه ییزو اوسېدونکو په شتون کې د ۴۰۰ متره اوږدوالي، ۱.۵ متره ژوروالي او ۱۰ متره سور په درلودلو سره د درې سوه او پنځوس زره (۳۵۰،۰۰۰) افغانیو په ارزښت سره پیل شوه.

د یادونې وړ ده، چې د یادې پرژې په بشپړېدو سره به له ۴۰۰ څخه زیات هستوګنیز کورونه، عمومي سړک او کرنیزې ځمکې د احتمالي سېلابونو له خطرونو څخه خوندي شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار برای خانواده‌های بی‌جاشده ناشی از بارندگی های امشب غذای آماده تهیه کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار، امشب، چهار شنبه، خانواده‌های که منازل شان از اثر بارندگی‌های شدید در نواحی مختلف شهر کندهار خانه‌های شان آب گرفته بود، به مناطق امن انتقال داده و برای آنان غذای آماده و آب آشامیدنی تهیه کرد.

قابل یاد آوری است که محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به تمام مسوولان در تمام مرکز و ولایات هدایت سپرده است که آمادگی‌های لازم را جهت اقدامات فوری روی دست داشته باشند.

## د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست دوه کتلې د ښویېدو تر خطر لاندې ډبرې له منځه یوړلې




د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د بودیجې په واسطه د یاد ولایت د نیلي ولسوالۍ په جوقل او پاتو ولسوالۍ په ګوني زی سیمه کې دوه کتلې د ښویېدو تر خطر لاندې ډبرې له سروې وروسته له منځه یوړلې.

یادې ډبرې چې د سیمه ییزو اوسېدونکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی وو د دوه څلویښت زره او نه سوه او پنځه اویا (۴۲،۹۷۵) افغانیو په ارزښت سره د قراردادي شرکت له لوري له منځه یوړل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د ګڼ شمېر کورونه د دې ډبرو له ښویېدو څخه خوندي شوې.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۰ بېځایه شویو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د OCCD موسسې په ملاتړ، د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د پاکستان د وروستیو بریدونو له امله ۱۱۰ بېځایه شویو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته یو عدد فاملي کېټ، یو عدد د پخلنځي کېټ او یو تخته ترپال ووېشل شول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۵۱ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانها برای فردا A4T موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په دره نور ولسوالۍ کې د تېرې زلزلې له امله ۳۵۱ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسولینو په شتون کې د ۱۵۰ ډالرو معادل ۹،۶۴۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې د نغدو مرستو ټولیزه اندازه درې میلیونه او درې سوه او درې اتیا زره او شپږ سوه او څلوېښت (۳،۳۸۳،۶۴۰) افغانیو ته رسېږي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۱۳ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب کمک های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM)، مؤسسه حمایت از کودکان (Save the Children) و دفتر هنگری، در ولسوالی پشتونکوت آن ولایت، برای ۱۳ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب‌های اخیر پس از انجام سروی، کمک‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
در این روند، در حضور مسئولین، از سوی مؤسسه Save the Children برای هر یک از ۱۳ خانواده یک کیت صحی و مبلغ ۱۰،۷۵۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع یک‌صد و سی‌ونه هزار و هفت‌صد و پنجاه (۱۳۹،۷۵۰) افغانی می شود. همچنان از سوی دفتر هنگری برای هر خانواده ۲۰۰ کیلوگرام آرد، ۱۸.۲ کیلوگرام روغن، ۲۵ کیلوگرام دال نخود، ۲.۱ کیلوگرام بسکویت و ۲ کیلوگرام نمک توزیع گردید و از جانب سازمان IOM نیز برای ۶ خانواده از این میان، برای هر یک باب خیمه، یک کیت آشپزخانه، یک عدد چراغ سولری، یک کیت صحی و یک کیت سرپناه مؤقت توزیع شد.

## رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر از زخمیان حمله روز گذشته پاکستان عیادت نموده و برای آنان کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس هدایت مقام محترم اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر از زخمیان حمله روز گذشته پاکستان در ساحات مختلف اسعدآباد، مرکز ولایت، عیادت نموده و به ۴ تن از زخمیان ناشی از حملات راکتی کمک های نقدی فوری توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین، به هر زخمی مبلغ ۱۰،۰۰۰ افغانی پرداخت گردید که در مجموع ۴۰،۰۰۰ (چهل هزار) افغانی برای آنان اختصاص داده شده بود و قرار است برای سایر مجروحان و ورثه شهدا کمک‌های لازم توزیع گردد.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت اړوند ۱۲ کورنیو ته چې کورونه یې د طبیعي پېښو له امله په بشپړ او نیمه ډول ویجاړ شوي وو، له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې ۹ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته ۳ بورۍ غنم، ۲ بورۍ وریجې، ۱ کارټن د البسې کېټ، ۱ روغتیایي کېټ، ۲ تختې کمپلې، ۲ عدد څان پاک، ۲ جوړه څپلکې او همدارنګه ۳ کورنیو ته چې کورونه په نسبي ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته ۱ بورۍ غنم، ۱ کارټن د البسې کېټ، ۱ روغتیایي کېټ، ۲ تختې کمپلې، ۲ عدد څان پاک او ۲ جوړه څپلکې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان برای ۱۱ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان با حمایت سازمان‌های Save the Children، IOM، WFP و UNICEF، پس از سروی، برای ۱۱ خانواده آسیب‌دیده از بارندگی‌ها در ولسوالی‌های شبرغان و آقچه آن ولایت، کمک‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین، از سوی دفتر Save the Children برای هر خانواده مبلغ ۱۰،۶۲۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ هشتاد و چهار هزار و نه‌صد و شصت (۸۴،۹۶۰) افغانی برای این‌تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود، از سوی سازمان WFP به هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۲۰ لیتر روغن، ۲۵ کیلو دال نخود، ۲ کیلو نمک و ۲،۲۵۰ کیلو بیسکویت، از سوی سازمان IOM نیز به هر خانواده ۳ تخته کمپل، یک تخته ترپال، ۲ عدد چراغ سولری، ۲ بشکه آب و یک ست لوازم آشپزخانه و همچنان، از سوی سازمان UNICEF برای هر خانواده یک کیت صحی و از طرف ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان به هر خانواده ۳ بوجی ۵۰ کیلویی گندم، یک تخته کمپل و یک بسته لوازم آشپزخانه توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۵۴۰ خانواده بی‌جا شده بسته‌های صحی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر با حمایت مؤسسه OCHR، در ولسوالی‌های مختلف آن ولایت، برای ۵۴۰ خانواده‌ای که در نتیجه حملات اخیر پاکستان بی جا شده‌اند، بسته‌های صحی توزیع نمود.

در این روند، پس از انجام سروی و با حضور مسئولان، به هر خانواده یک بسته صحی توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان روند سروی خانواده‌های بی‌جا شده ناشی از جنگ‌های اخیر را آغاز کرد

بر اساس حکم مقام عالی محترم ریاست‌الوزراء و به هدایت الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان در مرکز آن ولایت روند سروی خانواده‌های بی‌جا شده ناشی از جنگ‌های اخیر را به‌گونه رسمی آغاز نمود.



این سروی پس از تعیین یک هیئت سه‌نفره از سوی مقام ولایت آغاز گردید که در روز نخست حدود ۲۳ خانواده بی‌جا شده تحت پوشش قرار گرفتند. همچنان برنامه‌ریزی شده است که این روند به‌منظور جمع‌آوری معلومات دقیق در مورد خانواده‌های بی‌جا شده تا دو روز آینده ادامه یابد.

قابل یادآوری است که این سروی به‌هدف شناسایی درست خانواده‌های بی‌جا شده و آسیب‌دیده و به‌منظور رسانیدن کمک‌های مؤثر، شفاف و به موقع به آنان انجام می‌شود.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۳۱۴ خانواده کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه PIN، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت مالی این مؤسسه، پس از انجام سروی، برای ۳۱۴ خانواده مستحق در ولسوالی چهارکنت آن ولایت کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین به هر خانواده مبلغ ۲،۸۳۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۸۸۸،۶۲۰ (هشتصد و هشتاد و هشت هزار و شش‌صد و بیست) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده اختصاص داده شده بود.